واحد فقیري

۲۰۱۸/۱۱/۱۵

# امریکا په افغانستان کي په ختو کي بنده ده،
# خو د فرار په حالت کي ده



ښاغلی واحد فقیری

ښاغلی بینګ ویسټ د جمهور رئیس ریګن په حکومت کي د دفاع وزارت مرستیال وو. هغه د نومبر پر ۱۳ لیکي د ۲۰۰۱ په ژمي کي قریب لسو زرو امریکایي مرین عسکرو، سیا، او خاصو قواوو طالبان او القاعده په ډېر لنډ وخت کي مات کړل. پدې جنګ کي تلفات کاملاً یو طرفه ول. خو سمدستي زموږ عالي رتبه مامورینو دوه تباه کونکی تصمیمونه ونیول.

اول، جنرال ټامي فرانکس، څوک چي د امریکایي اشغالګرو قواوو قومندان، وو، اجازه ور نه کړه چي امریکایي خاص عسکر اسامه بن لادن او د هغه ملګري په توره بوره کي محاصره او ختم کړي. جنرال فرانکس همدا مهم امر بي باوره افغان جنګسالارانو ته ور تحویل کړ، او هغوی اسامه بن لادن ته اجازه ورکړه چي له افغانستانه په تېښته ووځي.

دوهم، لدې کاري ګوزار راوروسته طالبانو غوښتل چي د امریکا په زور د نصب سویو افغان چارواکو سره موافقه وکړي او تسلیم سي. خو د دفاع وزیر ډانلډ رمزفیلډ سمدستي د افغانانو تر مینځ همدا روغه جوړه شنډه کړه. طالب مشران مجبوره سول چي پاکستان ته پناه یوسي، او باقي پاته طالب جنګیالي په کلیو او باندو کي خواره واره سول.

پدې وخت کي، زموږ نظامي او ملکي مشرانو فیصله وکړه چي یوه قبایلي جامعه چي په ۱۷ قرن کي ئې ژوند کاوه، په یوې ټپانده دیموکراسي باندي بدله کړي. زموږ مرین جنګیالي د دولت - ملت د جوړولو طراحان سول. خو نتیجه یو عبث او قیمتي ۱۷ کلن جنګ سو چي څه د پاسه څلور زره امریکایي عسکر او قراردادیان په کښې مړه سول، او تقریباً یو ټریلیون ډالره خساره راورسېدله.

په ۲۰۰۱ کي دوه حیاتي تصمیمونه — القاعدې ته اجازه ورکول چي وتښتي، او بل د طالبانو سره د قوت له موضع څخه مذاکرات نه کول، سطحي او واقعاً خطر ناکه فیصلي وې. او له غلطه فیصله زموږ څلور ستوري جنرال فرانکس وکړه، او دوهمه زیانمن تصمیم زموږ ملکي د دفاع وزیر رمزفیلډ وینو. دواړو دا مهمي فیصلي په یوازي سر وکړې، او د بل چا سره ئې سلا مشوره و نه کړه. دواړو ځانته د دې زحمت ور نه کړ چي د نورو ماهرانو سره دا خبره شریکه کړي، او د هغوی نظر هم پوښتي.

اوس نو، نن ورځ موږ چیري یو؟ په افغانستان کي زموږ فعلي قومندان جنرال میلر وایي«دا جنګ نظامي حل نه لري.» مانا موږ جنګ نه سو ګټلای، خو طالبان هم موږ په انتظار نه سي ماتولای. دا یوه غلطه فرضیه ده.

نن سبا، د افغانستان په کشاله کي د امریکا او طالبانو نقش او رول سرچپه او اولټه سوی دئ. په ۲۰۰۱ کي، طالبانو غوښتل چي مذاکرات وکړي، خو موږ د هغوی غوښتنه ور رد کړه. څکه موږ باور لاره چي هغوی تروریستان دي، او موږ لوبه ګټلې ده. په ۲۰۱۸ کي، موږ غواړو چي د طالبانو سره مذاکرات وکړو، خو اوس هغوی انکار کوي. البته دا باید زیاته سي چي طالبان د افغان تولني سرطان دئ، خو میکروب نه دئ چي نورو ته



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

سرايت وکړي، او يوه ساري او عمومي وبا ترې جوړه سي. لنډه دا چي په افغانستان کي زموږ هدف نور د يوې باثباته ديموکراسي جوړول نه دئ، بلکي زموږ هدف دا دئ چي يوه داسي د فرار لاره پيدا کړو چي د ويتنام د تاريخي شرم له تکرار څخه ځان بچ وکړو، او دېته مجبوره نه سو چي د کابل د سفارت له بامونو څخه په هليکوپټرو باندي ځړېږو، او له افغانستانه د هوايي پل او دهليز لاري په بې آبی سره راووځو.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاریته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ